# زېرى

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده
د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري لمريز

پينځنۍ (پنجشنبه) د غويي ۳ - ۴مه ګڼه، پرله پسې (۴٦۷-۴٦۸) مه ګڼه، د ۱۴۰۵ل کال د غويي ۳۱مه، د ۱۴۴۷هـ.ق. کال د ذوالحجة ۴ مه او د ۲۰۲٦م.کال د مۍ۲۱مه




که محنت کـــــــــــــه مشقت دی خو د دين دی
پـــــــــــــــــکار نه دی بل محنت په دا دنيا
تر هغه به بل نـــــــــــــــادان په جهان نه وي
هـــــــــر چې غواړي فراغت پــــــــــــه دا دنيا
عبدالرحمٰن بابا

اکاډمېسين څېړنپوه دوکتور سيد محی الدين هاشمي

## د داستاني ادب جوړښت؛ د ليکنې اصول او لارې (۲) برخه

۲. جوړښت او د ليکنې لار

ناول هم د نورو معاصرو ادبي نثري ژانرونو په څير د ليکنې ځانګړې چوکـــــــاټ او د جوړښت توکي لري. د نـاول د جوړښت توکي په مجموع کــــــــې د ناول ليکنې چـوکـاټ جوړوي. د ناول ليکنې چوکاټ د لنډې کيسې چـوکـاټ تـه ورته دی خو په دې توپير چــــې د لنډې کيسې چوکاټ لـنډ تنګ او د ناول چوکاټ پراخ دی. د جوړښت توکي يـې هـم هماغه د لنډې کيسې توکي دي خو دلته بيا هم د اوږدوالي او پراخوالي موضوع مطرح ده او لـيـکـوال پـکـې د لـنـډې کيسې په پرتله هر څه په خلاص مټ ليکلای او ويلای شي. ادبپوهانو دا لاندې توکي د ناول د جوړښت له ډيرو مـهـمـو اوبنسټيزو توکو په توګه ښودلي دي:

کيسه، پلاټ، کرکټرونه (پرسوناژ) مکالمې، مـنـظـرکـښـنـې، ژبه، د وينا او بيان طريقه (اسلوب)، پيغام او مقصد.

۱ . کيسه: په ناول کې کيسه لومړنی او اساسي توکـی دی. د ايم فورسټر په وينا کيسه د ناول د ملا تير حيثيـت لـري. (هاشمي، رفيع الدين. ۱۳۸۵ل: ٦مخ) هر ناول به خامخا يـوه کيسه لري، بې له کيسې ناول رغېدلی او ليکل کـېـدلای نـه شي. د کيسې په منطقي ترتيب او د هغې په تدريجـي رنـګ کې د ناول د غوره والي (معقوليت او مقبوليت) راز نغښتـی دی. (يوسفزی، ۱۹۹۵م: ۸٦مخ)

د ناول په کيسه کې نورې وړې وړې کيسې وي چې يـوه لـه بلې سره منطقي، فکري اړيکې لري او د مرکزي پـېـښـې تـر څنګ څرخي او په مجموع کې په يوه يا بله بڼه د کيسې په بشپړولو او يوې پايلې ته په رسولو کې مرسته کوي.

۲. پلاټ: هر ناول د يو لړ وړو لويو پېښو ټولګه وي. په ذهن کې د دغو واقعاتو او پېښو ترتيب ته پلاټ ويـل کـېـږي. د ناول ليکوال مخکې تر مخکې د کيسې ټول بنسټيز توکي پـه يوه ترتيب او تنظيم کې راولي، څکه هغه چې کومه اصـلـي کيسه او په هغې پورې نورې اړوندې فرعي کيسې بـيـانـوي، هغه د ده په ذهن کې له وړاندې موجودې وي، په ذهن کې د دغو پېښو ترتيب، د کيسې بشپړول او پـای تـه رسـول د ناول د پلاټ ډيرې مهمې برخې جوړوي. په لـومـړۍ بـرخـه کې هغه د کرکټرونو پېژندګلوي او په دويمـه بـرخـه کـې د کرکټرونو ټکر ته ځای ورکوي. په بله برخه کې هغو ستونـزو ته چې کردارونو ته پېښې دي، حل او په اخره کـې پـه يـوه منطقي پايله (نتيجه) ناول پای ته رسېږي. د پلاټ مـثـال د داسې تصويري خاکې دی چې د اصل ګومان پـرې کـيـدای شي. (سنديلوي، ۱۸۹۸م: ۸۷مخ)

د ناول ليکوال ته دا بايده دي چې په ذهن کې د خپل پـلاټ لپاره داسې پېښې راټولې کړي چې خلکو تـه پـه زړه پـورې واقع او د لوستونکي ژوره پاملرنه را وګرځولای شي.

د ناول پلاټ په دوه ډوله دی: منظم او غير منظم پلاټ

منظم پلاټ: هغه دی چې پکې د کيسې توکي يو په بـل کـې نغښتي او غوټه شوي وي او په دغو توکو کـې کـمـزوري او جلاوالی نه ليدل کيږي. ليکوال بايد په ټولو بـرخـو يـا کـې غور کړی او يو کلك او غښتلی چوکاټ يې جوړ کړی وي.

نا منظم پلاټ: هغه دی چې د کيسې توکي ۲مخ

ل: پروفيسور محمد نواز طائر
پښتو ژباړه: محمد الله ساپی

## پښتو ژبه او ادب (۵) برخه

### د پروفيسور محمد نواز طائر "پښتو ژبې او ادب ته لنډه کتنه" اردو اثر لومړۍ مقاله

د شلمې پېړۍ له پيل سره سم پښتـو ادب هـم د نـوي عصر په پل، پل کېښود، په هيواد کې د نـوي عـلـومـو د لاس ته راوړلو او د سياسي غورځنګونو له برکته په پښتو ادبياتو کې هم نوی هڅې پيل شوې او د پښتنو ليکـوالانـو په خيال او فکر کې هم ژور بدلون رامنځته شـو، پـه دې موده کې د اردو ژبې د نوي شاعرانو کلام هم پـه پښتـنـو شاعرانو ډېر اغيز وکړ، تر دې چې د علامه اقبـال د پـيـل شاعري چې په دې وخت کې به په کوم اخبار يا مجله کې خپرېده، نو د پښتو ژبې ځينو شـاعـرانـو بـه سـمـدلاسـه ژباړله او بيا به يې په سيمه ييزو اخبارونو او په مجلو کـې خپروله، تر ټولو لومړی راحت زاخيلي په دې چـارو لاس پورې کړ، چې په دې وخت کې يې په اخبارونو کې د کاتب په دنده کار کاوه، مولانا عبدالقادر په خپلې يوې مـقـالـه کې راحت زاخيلي د پښتو د نوي دور مخکښ ګڼـلـی دی، د دې دوران په شاعرۍ کې د وطن، قام سياسي ازادي او د استعمار په څېر نوو اصطلاحاتو پښتو ادبياتـو تـه لاره وکړه او د ادب چينې ډېرې په همدې تړاو راوخوټيـدې، دا هغه وخت وو، چې په پښتو ژبه کې د لنډې کيسې، نـاول او تمثيل په ليکلو لاس پورې شو، د شلمې پېړۍ لـه پـيـل سره سم د صحافت ډګر هم وغوړيد او په پښتو ژبـه کـې اخبارونه او مجلې چاپ او خـپـرې شـوې، څـکـه خـو د قاضي رحيم الله په ليکل شوي کتاب (نوي روښنايي) کـې د معاصر دوران د ناول او د ډرامې امتزاج موندل کـېـږي، خدای بخښلي راحت زاخيلي د پښتو ژبې ادب تـه لـنـډه افسانه معرفي کړه، له سياسي بېدارۍ او د نوی عصر له علومو سره سم او د خوا او شا حالاتو پښتانـه لـه درانـه خوبه راويښ کړل او د خپلې ژبې او ثقافت سره يې مينـې غزونې وکړې، د (۱۹۳۰م) وروسته د نـوي دور پښتـانـه ليکوال له نوي جوش او جذبې سره رامخکې شـول او د پښتونخوا په ټولو لـوړو ژورو کـې د ژبـې او ادب زړې زرغون شول، نوي فکري مکتبونـه رامـنـځـتـه شـول، پـه

> د (۱۹۳۰م) وروسته د نوي دور پښتانه ليکوال له نوي جوش او جذبې سره رامخکې شول او د پښتونخوا په ټولو لوړو ژورو کې د ژبې او ادب زړې زرغون شول، نوي فکري مکتبونه رامنځته شول، په افغانستان کې د نړيوال سياست او د هيواد د کورنيو غوښتنو او فشار له مخې د افغانستان دولت له فارسي ژبې سره پښتو ژبه هم رسمي ژبه اعلان کړه او د پښتو ادب او ژبې د پرمختګ لپاره د دولت په اداره کې چارې پيل شوې.

افغانستان کې د نړيوال سياست او د هـيـواد د کـورنـيـو غوښتنو او فشار له مخې د افغانستان دولت لـه فـارسي ژبې سره پښتو ژبه هم رسمي ژبه اعلان کړه او د پښتـو ادب او ژبې د پرمختګ لپاره د دولت په اداره کـې چـارې پيل شوې. (۱) د عليګړ د کالج په ډول د پېښور ۳مخ

ماښام خټک

## د "طلايي پاڼې" نثرونو
### کې کيسه وزمه ليکنو ته يو نظر يوه کتنه

"طلايي پاڼې" د ادبي نثرونو دا ټولګه د علامه عـبـدالـحـيّ حبيبي تخليقي زيار دی. په دې ټولګـه کـې ټـولـې شـپـږ کيسې شاملې دي چې سريزه پرې پوهندوي مطيـع الـلـه روهيال ليکلي ده. په دې ټولګه کی چې کوم ادبي نـثـرونـه خپاره شوي دي په هغو کې د ميوند غزا، اوستری لوست، د خپلواکۍ مينه، طبيب، مېړنی هېوادپال او د هـېـوادپـال شپون کيسې شاملې دي.

اوس راځو چې دا "کيسه وشمه ادبي نـثـرونـه"، "طـلايـي پاڼې" د "يو نظر او يوه کتنه" په چوکاټ کې په کوم مقام او د کوم معيار له رويه د خپل ځان د ښودنې تخـلـيـقـي، تخيلي او فني يا جمالياتي اړخونه رابرسېره کوي.

### د ميوند غزا

دا لنډه کيسه د ميوند په پېښې اډانه ده. د ميوند پـېـښـې ته يو داستاني کيسه ييز رنګ ورکـړل شـوی دی. تـاريـخ کيسه شوی او نچري تخليقي اسطور پنځول شوی دی.

د ايوب خان او د ملالې کردارونـه سره د ټـولـو شريـکـو جنګيالو يو وارې بيا د فن او لنډې کيسې په چوکاټ کې را ژوندي کړل شوي دي. تازه ماحول، ژبه، اسلوب، ګـردان او تازه لرې برې او په وطن د زړه له کومې سرښـنـدنـه د دې لنډې کيسې بنيادي تهيم دی. لکه:

د الله اکبر لوړ ږغ او ږوږ به ګړی په ګړی د بکوا پر پلن او وچ دښت پورته کېدی.

د دې تورو او سرو سپينو بېرغو رپ رپ زمونږ د غـازيـانـو جوش او خروش ښکاره کاوه. د غازيانو پښو کړپې وو. د دوبې تود باد چلېږي .

ملي سردار په ورين تندي پر مشکي اس سپور و.

دې پښتانه ځلمې سردار ټولې هغه ښېګڼې درلـودې چـې له يوه لوی ملي مشر سره ښايي. دا غازيان چې پر دې لار راتله سارا نشين پښتانه او پونده هم ورسره ملګري وو.

که څه هم نن غليم زورور دی مګر لوی خاوند تر هـر چـا قوي دی. څکه مونږ پر خپله پښتنې او اسلامي ننـګ ولاړ يو، نو خامخا خاوند زمونږ مرسته کوي او برې راکوي.

پښتنو! وګورئ، که څوک يوه کوچنۍ چـوغـکـه تـر غـاړه ونيسي هغه هم وزر سرپوي په منګولو د خـپـل وژونـکـي لاس منګارې کوي. مونږ هم پښتانه يو ښايي چې دا خپـل غليم ژوبل کو او له وطنه يې وباسو. دلته د غـازيـانـو پـه ګډه ږوږ پورته شو چې لا غازي لا شهيد.

د ماسپښين دوه بجې وې، زمونږ غازيان خورا تږې وو او نږدې وو چې له کاره ولويږي.

دلته زمونږ پښتنه نجلۍ چې بېرغ يـې پـه لاس کـې و د فرښتې په دود پر دوی باندې راغله او په خورا خـواږه ږغ يې دا دوې پښتو لنډۍ ناري کړې:

که په ميوند کې شهيد نه شوې
ګرانه لاليه بې ننګۍ له دې ساتينه
خال به د يار د وينو کښېږدم
چې شينکي باغ کې ګل ګلاب وشرموينه

### وروستی لوست

دا کيسه د فرانسوي ژبې له ادبه اخذ کـړل شـوې ده. د خپلې ژبې قدر، د خپلې ژبې هېرول، د خپلې ژبې زدکـړه، ليکل، لوستل او ښييل، په خپله ژبه کې ژوند کول او پـه خپله ژبه کې خوب يا خوبونه ليدل، په خـپـلـه ژبـه کـې تعليم او علم يا علمي زدکړې کول، خپله ژبه د مغـلـوبـې ژبې نه را ازادول يا د دې احساس لرل بلکې هڅې کول د دې کيسې ټول ټال چوکاټ دی.لکه:

د پسرلي د يو ښه موسم يو ښکلی سهار و. د ګهيځ نـرۍ وږم چې خورا خوشبويي وه چليدی.

زړه او دماغ دواړه په معطره کېده. زما پښـې پـخـپـلـه د مکتب وخوا ته تلې نه پوهېږم ولې؟ ۳مخ

اسدالله غضنفر

## سره "Sara" (۲) برخه

وييکي مختلفې معناګانې لري او د يوې ژبې وييکي له بلې ژبې سره په اسانه سمون نه خوري. بلـه دا چـې ځـيـنـې کلمې او فعلونه له خاصو وييکو سره راځي او دا په هـره ژبه کې فرق کوي. د انـګـريـزي with پـه ډکشـنـري کـې ممکن (سره) وژباړو، حال دا چې په ګڼو جملو کې به پـه پښتو کې د انګريزي with ته بل معادل پيدا کـوو. پـه انګريزي کې راځي: .Ahmad is in bed with cold

دا جمله که ټکي په ټکي ژباړو نو ليکو به چـې احـمـد پـه زکام سره بستري دی، خو موږ به په سمه پښـتـو کـې د زکام له کبله يا د زکام په وجه يا داسې بل څه وايـو، نـه (په زکام سره)

د دري (با) د پښتو د (سره) معادل وييـکـی دی مـګـر پـه ډېرو ځايونو کې د دري د(با) په ځـای بـايـد بـل وييـکـی ومومو. په دري کې د معاوضې او مبادلې د مـفـهـوم د رسولو لپاره (با) راځي: با اين پول نمی توان موتر خـريـد. موږ ممکن د (با) پښتو معادل (سره) ته پام وي او ويـې ژباړو چې: په دې پيسو سره موټر نه شو رانيولی؛ حال دا چې دلته (سره) نه غواړي. په دري کـې وايـو: مـردی بـا لباس آبی وارد سالون شد. موږ يې ممکن نـاسـم وژبـاړو چې: له شنو جامو سره يو سړی سالون ته دننه شو. حال دا چې (په شنو جامو کې) يا (د شنو جامو) عبارتـونـه يـې پښتو معادل دي: ما ته د تورو جامو يار راولئ. که ووايـو چې يار دې له تورو جامو سره راشي، نو منظور مو بايد دا وي چې دی دې هم راشي او د تورو جامو کڅوړه دې هم ورسره وي.

د حالت قيدي عبارت په دري کې ډېر څله د (با) وييکي په مرسته جوړېږي: مرد با چشمان اشک آلود ګـفـت... چـې (سړي په ژړاندو لېمو سره وويل) يې ډېره ښـه پښـتـو نـه ده. موږ بهتره ده وليکو: سړي په ژړاندو لېمو وويـل. پـه دري کې ليکو: او با پيشانی باز صحبت مـيـکـرد. خـو پـه پښتو کې بايد وليکو: هغه په ورين تـنـدي خـبـرې کـولـې. دغه راز (او با دل شکسته ګفت) به (هـغـه پـه مـات زړه وويل) ژباړو. لکه څنګه چې مو وويل په دري کې د حالـت د قيدي عبارت په جوړښت کې (با) راځي خو پښتو جمله په دغسې ځای کې (سره) نه غواړي: دی په سپـيـنـه ږيـره کار کوي. دی امسا په لاس جومات ته روان وي. دی پـه کوپه ملا واده غواړي. ده په هغه لويه تنه دروغ وويل.

په هغو جملو کې چې ساده ستاينوم د قيدي عبارت ځای نيولی شي، د ستاينوم راوړل معمولا بهتره وي. تر (الـف) جملې، (ب) جمله طبيعي ښکاري:

(الف) هغه په خوشحالۍ سره راغی.
( ب) هغه خوشحاله راغی.

> د حالت قيدي عبارت په دري کې ډېر څله د (با) وييـکـي په مرسته جوړېږي: مرد با چشمان اشک آلـود ګـفـت... چې (سړي په ژړاندو لېمو سره وويل) يې ډېره ښه پښتـو نه ده. موږ بهتره ده وليکو: سړي په ژړاندو لېمو وويل.

ګومان کوم (الف) جمله هم د ژباړې د منفي اثر پـيـداوار ده. په دري کې راځي چې:(احمد با ناراحتـی جـلـسـه را ترک کرد.) چې په پښتو کې داسې بـهـتـره ده: هـغـه لـه غونډې خوابدی ووت.

(په موټر کې ورغلم.) او (له موټر سره ورغلم.) د دوه بـېـلـو موخو لپاره راوړو. که يو څوک را ته منتظر وي چې ژر يې کور ته ورسوو، نو ممکن ووايو، له موټر سره ورغـلـم. يـعـنـې د هغه رسول اصلي مقصد دی. خو (په موټر کـې ورغـلـم.) د ځان د رسولو په اړه ده. موږ نه وايو چې (په سطل سره مـې اوبه راوړې.) بلکې وايو چې (په سطل کې مـې اوبـه راوړې.) خو (اوبه مې له سطل سره راوړې.) هغه وخت وايو چې هم د اوبو او هم د سطل راوړل مقصد وي. ۲مخ

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

پېښتي دوره
● پينځنى (پنجشنبه)
● د غويي ۳ - ۴ مه گـــــنه
● پرله پسې (۴۶۷ - ۴۶۸ مه) گڼه

● ۱۴۰۵ل د غويي مـــياشتې ۳۱
● ۱۴۴۷ق د ذوالحجة ميــاشتې ۴
● ۲۰۲٦م د مى مـــــياشتې ۲۱

## د داستاني ادبیاتو جوړښت؛...

پر داسې بېلابېلو پېښو ولاړ وي چې پکې منطقي اړيکې ډېرې لږې او يا کمزورې وي. (هاشمي، ۱۳۷۲ل: ۸۱مخ)

ځينو څېړونکو د ناول پلاټ په ساده او ترکيبي پلاټ هم ويشلى دى. د پايلې په توگه ويلى شو چې پلاټ د ناول لپاره ډېر بنسټيز ارزښت او اهميت لري. پلاټ د ليکنې لپاره ذهني طرحه او د بنسټ ډبره ده چې د ليکنې تولـه ودانۍ پرې رغېږي، نو ډېر غور او دقت پکې پکار دى چې غښتلى، پوخ او ټينگ وي او داسې څه پکې ځاى نه کړاى شي چې د کيسې خوند او اغيز ته زيان ورسوي.

۳. کرکټرونه (پرسوناژ - لوبغاړي): کرکټرونه، لوبغاړي يا کردارونه هم د ناول اساسي توکي دي. بې له دې څخه کيسه پرمخ نشي تللې. کرکټرونه او کردارونه پخپلو کړنو او عملونو کيسه بشپړوي او وروستۍ پايلې ته يې رسوي. په ناول کې په اصلي کرکټرونو برسيره فرعي کرکټرونه يا کردارونه هم وي چې د اصلي کرکټرونو په شا و خوا څرخي دا فرعي کرکټرونه ځينې په واقعيت کې د اصلي کرکټرونو د ورانډې تگ او ځينې يې د کيسې د بشپړولو او پايلې ته د رسولو لپاره وي. ناول ليکونکى دغه کردارونه په دوه بڼو، تشريحي او ډراماييز بڼو ښودلاى شي.

په تشريحي بڼه يې داسې ښيي چې ليکوال د خپل خوښ کړي يا ټاکلي کردار جذبات، احساسات، افکار او خيالات پخپله بيانوي او ډراماييز ښودنه يې داسې ده چې ليکوال کرکټر د هغه د خپلو خبرو اترو حرکاتو او سکناتو په وسيله لوستونکي ته ورپېژني. (يوسفزى، ۱۹۹۵م: ۱۷۸مخ)

کرکټرونه چې د يوه ناول بنسټيز توکي دي او د کيسې د برياليتوب لامل وي، نو ليکوال بايد هڅه وکړي چې ټول کردارونه د خپل ټولنيز چاپېريال داسې ټيپيکي نمونې انتخاب کړي چې لوستونکي يا اوريدونکي ته رښتيوني او واقعيت ته نږدې وبريښي. په دې لړ کې ډېر لږ تناقض هم ټوله کيسه بې خونده او بې اغيزې کولاى شي.

۴. مکالمې (خبرې اترې): مکالمې هم د ناول د جوړښت اساسي برخه جوړوي څکه د همدې خبرو اترو (مکالمو) په وسيله د کردارونو ځانگړنې او څرنگوالى څرگنديږي. په ناول کې مکالمې نه د ډرامې په څير ډېرې او نه هم د لنډې کيسې په څير لږې وي. مکالمې بايد ښې او په زړه پورې وي. ښه مکالمه په کيسه کې ساه اچوي او کردار ته نوى ژوند ورکوي او د ناول په خوند او رنگ کې اضافه کوي. (هاشمي، ۱۳۷۲ل: ۸۱مخ)

د هر کردار مکالمه د هغه په ټولنيز موقف او پوړ (طبقې) رڼا اچوي او د هغه عادت او حالت څرگندوي. ناول ليکوال بايد د ټولنيز ژوند او چاپېريال ژوره مطالعه او مشاهده ولري او د هر کردار د مکالمې يا خبرو اترو لهجه يې بايد فطري او د هغه له قال او حال سره برابره وي. هسې نه چې د خپل يو نالوستي او بزگر کردار په ژبه د فيلسوف په څير منطق او استدلال کوي. (هاشمي، رفيع الدين. ۱۳۸۵ل: ۸-۹مخونه)

مکالمې بايد طبيعي او فطري رنگ ولري چې لوستونکي ته د کردار د عمر، جنس، زده کړې، کسب کار او د ژوند د معيار اندازه او حالت جوت شي. مکالمې بايد لنډې وي، لکه څنگه چې موږ د ورځني ژوند په خبرو اترو کې لنډې لنډې جملې کاروو او خبرې يوازې د مطلب د افادې لپاره کوو، همدغه لاره بايد په ليکوالۍ کې هم خپله کړو اوږدې مکالمې او خبرې اترې او پکې د گرانو او کړيچنو کلمو او يا خالصه ادبي ژبه کارول ناول بې خونده کوي.

۵. منظر ليکنه يا کښنه: د منظر ليکل يا انځورول هم په ناول کې د پېښو د طبيعي ښودلو او د کيسې د وړاندې بيولو لپاره ستر ارزښت او اهميت لري. منظر کښنه کردارونو ته ښکلا وربخښي او د پېښو د طبيعي والي څرگندويي کوي.

د ناول ليکوال د دې لپاره چې د پېښو څرنگوالى څرگند شي او يا د دې لپاره چې لوستونکى د پېښو له پرله پسې والي څخه په تنگ نه شي، نو د دې اړتيا احساسوي، چې د هغه ذهن ته يو طبيعي منظر وړاندې شي، تر څو هغه د لږ وخت لپاره په يوې پراخې فضا کې تازه ساه واخلي او بيا بيرته د پېښو او واقعاتو هغه بهير ته راستون شي چې ورڅخه تللى وي، نو د خپل تخيلي ځواك په ملتيا د طبيعي مناظرو او بېلابېلو حالتونو په زړه پورې انځور د الفاظو او کلمو په وسيله داسې وړاندې کوي چې لوستونکى فکر کوي دا هر څه د سر په سترگو ويني، خو دې خبرې ته مو بايد پام وي چې کله کله بې ضرورته منظرکښنې د کتې پر ځاى زيانمنې وي.

د ناول ليکوال عموماً منظر کښنه په درې ډوله کوي:

۱. قدرتي او طبيعي مناظر، لکه: ځنگلونه، غرونه، سيندونه، لمر، سپوږمۍ او...

۲. د ټولنيز ژوند او چاپېريال مناظر، لکه: کلى، کور، کوڅه، سرك، بازار، لار او...

۳. د انساني جذباتو، احساساتو، رواني، روحي حالاتو منظر ليکنې او کښنې چې په دې وروستى ډول منظر کښنه کې د ناول ليکوال د يوه اړواه پوه بڼه غوره کوي او ټاکلي کردارونه په خيالي فضا کې مخې ته دروي او د خپلو تصوراتو او تخيلاتو په ملتيا د هغو په هکله څېړنه او مطالعه کوي او لوستونکي ته يې د کړنو، احساساتو او جذباتو يو انځور وړاندې کوي.

٦. ژبه، د وينا او بيان طريقه (اسلوب): د ناول د جوړښت د اساسي توکو په لړ کې د ناول ليکونکي د ليکوالۍ ژبه، د ليکلو طرز، لار او د اسلوب څرنگوالى هم ډېر اهميت لري. د فني او هنري ارزښت له مخې د ناول ليکوال برياليتوب په دې کې دى چې هغه د کيسې په بيانولو کې څه ډول کلمې او ترکيبونه کاروي؟ د تشبيهاتو، تمثيلاتو اندازه او معيار يې څومره او څنگه دى؟ د جملو جوړښت او رغښت يې څه ډول دى؟ د بېلابېلو کړو وړو او منظرو د انځور او وړاندې کولو ژبه يې څنگه ده؟ د کيسې پيلامه په کومو الفاظو يا کلمو او جملو سره کوي؟ زړه راښکون لري که نه؟ د يوې ښې او غوره کيسې د بيانولو لپاره لازمه ده چې په داسې ښو کلمو او جملو کې بيان کړاى شي چې لوستونکى يې له لوستنې خوند واخلي.

ليکوال بايد د خوښۍ د جذباتو او احساساتو لپاره يو ډول او د غم يا خپگان د حالت او جذباتو د بيانولو لپاره بل ډول ژبه وکاروي. د عمر په بېلابېلو پړاوونو کې د يوه کردار يا کرکټر د ژبې انداز او د وينا اسلوب بېل وي. د يوه ماشوم او بوډا په خبرو کې هم توپير وي. د هغوى په تجربو، پوهې او د فکر په انداز کې هم څرگند توپير موجود وي. ليکوال بايد دا هر څه په پام کې ولري. (فورسټر، ايم. نه لري: ۳۲مخ)

۷. پيغام او مقصد: هره ليکنه خامخا د يوې موخې او غرض لپاره کېږي، دغسې په هر ناول کې هم يو اصلي پيغام او غرض نغښتى وي. دا پيغام او غرض په واقعيت کې هغه اغيز وي چې ليکوال يې د احساس او جذبې په بڼه د پند، خوند، کرکې، تنبه او... په هيله لوستونکي يا اوريدونکي ته ورليږدول غواړي.

ليکوال د کيسې کردارونه د مقابلې، مجادلې، مبارزې او هدف ته د رسيدنې په ډگر کې د خپلو کړنو يا اعمالو او افعالو په وسيله له يوه داسې کشمکش، کشالې او حالت سره مخامخ کړي او د هغوى د هيلو، جذباتو او احساساتو داسې ژوره عکاسي په الفاظو کې وړاندې کړي، چې په لوستونکي کې سمدلاسه له کردار سره د ملگرتيا، همدردۍ، خواخوږۍ او برعکس د کرکې او کينې جذبه را ولاړه کړي او ځان له مثبتو کردارونو سره په خوښۍ، غم خپگان او ستونزو کې شريك احساس کړي او د منفي کردارونو په وړاندې يې جذبات او احساسات را وپارېږي.

۱. پيژندنه: رومان د فرانسوي ژبې کلمه ده په ځينو فرهنگونو کې يې معنا خيالي داستانونه او په ځينو کې د

## د رومان جوړښت او د ليکنې لار

مينې او محبت کيسې راغلې ده او په ادبي اصطلاح کې هغې کيسې ته ويل کيږي چې له ناول څخه اوږده وي. د ژوند ډېرې او بيلابېلې خواوې په کې منعکس شوې وي او د بيلابيلو پېښو انځور په ادبي قالب کې ځاى کوي. (هاشمي، ۱۳۹۳ل: ۱۹٦مخ)

ځينو ايراني ليکوالو رومان د ناول په مفهوم کارولى او د "داستان بلند" نوم يې هم ورکړى خو په نړيوال ادب کې دواړه د داستاني ادب جلا ژانرونه گڼل شوي دي.

هسې خو د رومان د پيدايښت لرغونتيا د ميلاد لومړيو پيړيو او پخوانيو خيالى روماني کيسو ته رسيږي خو په اوسني مفهوم د رومان ليکنې پيلامه د اوولسمې پيړۍ په ورستيو کې (۱٦۷۸م) د فرانسوي ليکوال مادام دوالا فايت ليکلى رومان دى چې بيلگه يې تر اوسه ليدل شوې نه ده. البته له لوېديځ ادب نه يې ځينې ژباړې شته چې په هغه کې د ماکسيم گورکي مشهور رومان "مور" پښتو ژباړه په (۱۹۸۹م) کال په مسکو کې چاپ شوې او په دې وروستيو کې د تولستوى ليکلى مشهور رومان سوله او جگړه" ډاکټر لطيف بهاند پښتو ته را ژباړلى چې په څلورو ټوکونو کې چاپ شوى دى. (هاشمي، ۱۳۸۹ل: ۱۵۸-۱۵۹مخونه)

۲. جوړښت او د ليکنې لار: د رومان د جوړښت په ليکنې چوکاټ کې هغه ټول توکي شامل دي چې په ناول کې شته چې موږ وړاندې په لږ ډېر تفصيل سره توضيح او تشريح کړي دي چې دلته يې بيا اړتيا نه وينو. البته دا يادول ضروري بريښي هغه يوازينى ځانگړنه چې رومان د داستاني ادب د يوه ژانر او ډول په توگه له ناول څخه رابيلوي، هغه د رومان د کيسې لويوالى، د پېښو د لړيو او د پرسوناژ ډېروالى دى. د رومان په کيسه کې چې د ناول په پرتله اوږده او لمن يې پراخه وي، معمولاً د ډېرو وگړو برخليکونه په کې ټاکل او ښودل کېږي. نه يوازې دا چې د يوه قوم، ټولنې او ملت، بلکې د پيړيو او عصرونو ځانگړنې په کې انځورېږي. د انساني او ټولنيز ژوندانه ډېره برخه په کې تشريح کېداى شي او ليکوال کولاى شي د ناول په پرتله د رومان په ليکنې چوکاټ کې لوستونکي د يوه اولس، قوم او ملت له ستر تاريخ، ملي وياړونو، ډېرو کلتوري او فرهنگي ارزښتونو، ټولنيزو اړيکو او په ژوندانه پورې اړوندو ډېرو بېلابېلو موضوعاتو او مسايلو سره اشنا کړي.

(پاتې په بله گڼه کې)

## سره "sara"...

د (سره) ناسم،ترجمه ډوله او بې خونده استعمال تر ټولو زيات مثالونه په همدې (په+اسم+سره) جوړښت کې موندلاى شو چې په ځينو جملو کې ناسم او په گڼو نورو کې غيرضروري او مصنوعي ښکاري.

د (له+اسم+سره) جوړښت په اړه ډاکټر پالوال ليکي چې:»د نښلونې حالت، چې يو څه له بله سره ملگرتيا او اړه پيدا کوي.)«معياري پښتو، ۱۹۵مخ)

د استاد زيار تر ژبني غورځنگ له مخه (د...سره) او ( له...سره) دواړه عام وو خو داسې ښکاري چې په افغانستان کې د ډاکتر زيار هڅو نتيجه ورکړې ده او اوس دا معيار گڼل کېږي چې (له...سره) وليکو. څرنگه چې زموږ کلاسيکو استادانو تر ډېره حده (له...سره) ليکلى دى، توقع ده په پښتونخوا کې به هم ورو ورو (له...سره) په معيار بدل شي.

پوهاند ډاکتر زيار (د خوشحال ادبي پښتو) کې ليکي چې خوشحال خټک په ځينو شعرونو کې د (له...سره) جوړې څخه، په نادود او ناکره ډول، (سره) غورځوي، مثلا وايي: لکه څوک له خپله ياره لاس تر غاړه.

زما په خيال پخوانو ته دا غورځېدا ناکره نه برېښېده او د شعري اختياراتو (Poetic License) برخه يې گڼله. رحمان بابا فرمايي:

چې اشنا شي ستا لـــــــــه دره له دېواله
انتظار يې په روضـــــــــه د رضوان څه دى

په (له+سره) کې د (له) غورځېدا په اوس هم وينو:

په دې افتاده گۍ کـــــــې مې جنون گوره پسرليه
د سيوري غوندې هره ورځ له لمره سر وهم (غزلبڼ)

استاد ليکي چې د خوشحال په دې مصرعه کې هم (سره) غورځېدلى دى: ميرنى دې چې يادېږي په سندرو هم په وير.

زما په خيال غورځول شوى اوستربل به (سره) نه بلکې (کې) وي، څکه يو اسم چې د ظرف واقعي يا خيالي ځانگړنه ولري، په پښتو کې له (کې) سره د راتلو چانس ډېر لري:هغه په خبرو کې ياد شو، هغه په سندرو کې ياد شو، هغه په خندا کې وويل، هغه په ژړا کې وويل...

د (له...سره) په جوړه کې چې خصوصا له ضمير سره راشي، د پښتو په ختيځه حوزه کې د سربل د غورځېدا چانس ډېر دى. په ځولى گلونه کې لولو: »ته ما سره پس پس، زه تا سره گور گور. «البته، دغه پېښه اوسنۍ نه ده. په تېرو پيړيو کې يې هم څه نا څه مثالونه شته. استاد زيار يې د خوشحال په شعرونو کې مثالونه راوړي دي. رحمان بابا فرمايي:

دنيادار کـــــــــه دنيادار په سيم و زر دى
هنرمنـــــــــدو سره گنج د خپل هنر دى

د قند مجلې د ۱۹۷۲ کال د جنوري او فبروري په گڼه کې د اياز داوودزي په خپاره شوي ليک کې چې د مجلې مدير قمر راهي ته يې ليکلى دى، لولو: »بس تاسو قند زر زر راوباسئ چې هم تا سره ليده کېږي، هم ملگرو سره. « (ادبي هڅې، ۸۱۰ مخ)

استاد زيار ليکي چې د خوشحال خټک په شعرونو کې يې د باوجود په معنا (سره له) او (سره سره) هيچرې نه دي ليدلي او له دې برېښي چې دا د اوسني وخت لغتونه دي.(دخوشحال ادبي پښتو،۸۳ مخ)

د باوجود په معنا سربېره يو بل (سره سره) هم په شلمه پيرۍ کې د پښتونخوا نثرونو ته د ژباړې له لارې راغلى دى. د اياز داوودزي جمله ده:»نظيرجان هم د وخت سره سره روان و. د اولس [مجلې] ايډيټر شو...«

(سره) د معيت او ملگرتيا د معنا د رسولو لپاره (لکه په دريمه او اتمه جمله کې) په اوسنو او پخوانو آثارو کې

پوهاند ډاکتر زيار (د خوشحال ادبي پښتو) کې ليکي چې خوشحال خټک په ځينو شعرونو کې د (له... سره) جوړې څخه، په نادود او ناکره ډول، (سره) غورځوي، مثلا وايي: لکه څوک له خپله ياره لاس تر غاړه.

ډېر زيات استعمال شوى دى. د (سره) نورې معناوې هم له همدې معنا راوتلې ښکاري. د دوو کسانو مخامخېدل (احمد او محمود سره مخامخ شول) يا په يوه چار کې شريکېدل (احمد او محمود خواله سره کاوه.) له همدې معنا راوتلي دي. په دې جمله کې چې هغوى سره وجنگېدل؛ (سره) بيا هم د ملگرتيا مفهوم رسوي، يعنې دوى په دې کې سره متفق وو چې سره وجنگېږي. مشهوره جمله ده چې پښتنو په دې کې سره اتفاق کړى دى چې اتفاق به سره نه کوي.

(سره) په يوه بله معنا کې د شتون او موجوديت او ملکيت معنا رسوي. شاه سعود وايي:

ورځ مـــــــــــــې نلرله شپه راسره نه وه
د ژوندون يـــــــــــــوه شپبه راسره نه وه

د (سره) د همدې معنا د رسولو لپاره پخوانو د (څخه) وييکى ډېر ځله کارولى دى. رحمان بابا فرمايي:

هغه قند چې خداى زما پـــــــه خوله کې کښېښود
حلوايانو څـــــــــــــخه نشته هسې خوند
څه عجب دى کــــــــــه هماى يې په دام نښلي
هر صياد څـــــــــــخه چې دام دى د اخلاص

(سره) په يوه بله معنا کې (په خپل منځ کې يا يو له بله) معنا رسوي. رحمان بابا فرمايي:

عاشقـــــــــــــــې او خودبيني دي سره لرې
کـــــــــــه مطلب دې عاشقي وي خودبين مه شه

په يو بل بيت کې بيا په همدغسې جمله کې (وبله= يوله بله) راوړي:

عاشقـــــــــــــــــې او ننگ و نام دي وبله لرې
څو بـــــــــــــــه عمر واړه غم د نام و ننگ خورم

په ځينو عبارتونو کې (سره) کله کله د (په اړه)، (په باره کې) او( په حق کې) معنا هم رسوي:له هغه سره ظلم

استاد زيار ليکي چې د خوشحال خټک په شعرونو کې يې د باوجود په معنا (سره له) او (سره سره) هيچرې نه دي ليدلي او له دې برېښي چې دا د اوسني وخت لغتونه دي.(دخوشحال ادبي پښتو،۸۳ مخ)
د باوجود په معنا سربېره يو بل (سره سره) هم په شلمه پيرۍ کې د پښتونخوا نثرونو ته د ژباړې له لارې راغلى دى. د اياز داوودزي جمله ده: "نظيرجان هم د وخت سره سره روان و. د اولس [مجلې] ايډيټر شو..."

شوى دى. له ده سره څه وکړم؟ چې دلته (له هغه سره) او (له ده سره) د ده يا هغه په حق کې معنا ښندي. خوشحال فرمايي:

چې زما ســـــــــــــره يې کا پورې حيران يم
خپل پـــــــــــــــردي فن او فنون سحر دمونه

دلته (زما سره) زما په اړه يا زما په حق کې معنا ښندي.

(سره) د (سره سم) قيد معنا هم لېږدوي. مثال يې د شاه سعود د دې ښکلي نظم په وروستي کربښه کې وگورئ:

د خپل زوړ کالج په ليدو
کالج هماغه رنگې سره سره دېوالونه لري
خلک هماغسې ورځې او رخصتېږي ترېنه
هم هاغه شانتې پکې خلک سبقونه لولي
هماغه علم دى چې ورځ په ورځ خپرېږي ترېنه
خو زه او ته ترې نه جانانه څومره لرې راغلو
لکه د شمعې د وجود نه چې رڼا لرې شي
لکه شپېلى نه چې نغمې د غرونو مخه وکړي
لکه مرگې سره چې شونډو نه موسکا لرې شي

(سره) د يوځايوالي معنا هم رسوي. په دستارنامه کې لولو: »رسالت پناه لره نبوت، همت دواړه سره جبرايل راوړل. په دواړو کې يې مختار کړ. ده پکې همت ونيوه. نبوت هم ورغى. هر برکت چې دى په همت کې دى.«

په دې جمله کې هم (سره) د (يوځاى) معنا ښندي:
« هاتيان چې سره دوه،درې شي، بې ډغرو به پاتې نه شي.»

د (سره) د دې معنا يو بل مثال:

په دې بېديا کـــــــــې د مزله په خوند هغوى پوه شوي چې لکه ستورې سره ځي او سره خاندي، درومي (غزلبڼ)

په دغو معناگانو سربېره (سره) د قيدي عبارتونو په جوړولو کې ډېر پکارېږي چې مخکې وربانديې وغږېدو او ومو ويل چې د حالت او ذريعې د قيدي عبارتونو په گڼو جملو کې يې نشتوالى بهتره دى.

(سره) د دې ليکنې په ټولو مثالونو کې يو اوستربل دى خو استاد زيار په پښو پښويه کې ترويکى هم بللى دى. دوى دا جمله ورته راوړې ده: څوکرى گنډېرى سره ورونه دي=څوکرى او گنډېرى سره ورونه دي.( پښتو پښويه، څلورم چاپ، ۲۰۲ مخ) په پښتو کې داسې جملې شته چې (او) د ( سره) معنا ورسوي خو داسې جمله مې ذهن ته نه راځي چې (سره) د (او) ځاى ناستى شي. کاشکې استاد د ليکنې متن مثال يا مثالونه راوړي واى. په هر حال،که(سره) ترويکى وي، هغه يې لا يو بل نقش دى.

که احمد قسم کړى وي چې له محمود سره به يو ځاى نه راځي او بيا يو ځاى راشي، نوممکن پوښتنه وکړو: احمد له محمود سره راغى؟ د دې جملې د ويلو په وخت ممکن په (سره) باندې فشار واچوو. که څه هم سربلونه،اوستربلونه او ربطي وييکي معمولا بې فشاره ويل کېږي، خو دغسې ځينې خاص موارد شته چې د وييکو د ويلو له عام ډول سره سمون نه خوري. په دې سربېره د باوجود په معنا( سره له) کې (سره) په فشار سره وايو او د باوجود په معنا(سره سره) کې هم لومړى برخه په فشار سره ويل کېږي. داسې ښکاري چې کله (سره) وييکى د اوستربل په توگه يوازې گرامري پازه تر سره کوي، په ويلو کې يې فشار ته اړتيا نه پېښېږي خو چې د معنا د رسولو اړخ پکې پياوړى کېږي، بيا دا امکان يو څه زياتېږي چې په فشار سره دې وويل شي. په جمله کې په هغو کلمو باندې خج راځي چې د معنا په لحاظ مهمې وي. (سره) هم ممکن هغه وخت چې د مستقلو کلمو غوندې د معنا بار ورباندې وړو، په فشار سره ووايو. په هغه پوښتنه کې چې (احمد له محمود سره راغى؟) په (سره) باندې خج څکه راځي چې يوازې د يوه قيدي عبارت د جوړولو گرامري

استفاده ورڅخه نه کوو، بلکې د (يوځاى) د کلمې معنا هم ورباندې لېږدوو.

(سره) يوازې د ذريعې او حالت په قيدي عبارتونو کې نه بلکې په نورو هغو ځايونو کې هم اختياري دى چې پازه يې توضيحي او تاکيدي ده. د درستارنامې په دې جمله کې (هاتيان چې سره دوه، درې شي، بې ډغرو به پاتې نه شي.) (سره) توضيحي او تاکيدي نقش لري اونشتوالى يې نه جمله شړوي نه معنا بدلوي.

د(سره) د ناسم استعمال گڼ مثالونه په هغو جملو کې موندلاى شو چې د نورو ژبو د (سره) معادل وييکى پښتو ته را ژباړو. دا ضرور نه ده چې د بلې ژبې د جملې وييکى دې هم کټ مټ په پښتو ترجمه شي. د مبدا د ژبې د جملې وييکى د مقصد په ژبه کې ممکن نور معادل ولري او يا ورته هيڅ اړتيا پيښه نه شي. د حالت، ذريعې او علت په قيدي عبارتونو کې (سره) معمولا هغه وخت نه غورځي چې يا تاکيد کوو، يا د معنا وضوح ته صدمه رسي او يا د کلام د سلاست اړتيا وي.
پاى

## پښتو ژبه او ادب...

اسلامي کالج هم د ازادۍ خوښوونکو ځوانانو په مرکز بدل شو، په دې زمانه کې په ټول هندوستان کې سیاسي ډلو په لاریون ,ونو لاس پورې کړ او دا شعار یې خپل کړ، چې هندوستان ته خپله ازادي ورکړئ، د همدې غورځنګونو له برکته په پېښور او د پښتونخوا په نورو لویو او کوچنیو ښارونو کې د پښتو د صحافت ډیوې بلې شوې او ځو ادبي او علمي مرکزونه پرانیستل شول، په دې ډول افسانه، ډرامه، او له ناول سره، سره مضمون نګاري، تنقید او شننه، راپورتاژ او طنز و مزاح هم په پښتو ژبه کې ځای پیدا کړ، په شوروي اتحاد کې انقلاب او د لومړۍ نړیوالې جګړې ویجاړیو هم د پښتو په ادب کې ترقي پسندو رحجاناتو ځای ونیوه او له عروضي شاعرۍ سره، سره آزاد نظم هم په پښتو ژبه کې ځای پیدا کړ، د پښتونخوا د نوي دور د ځو نومیالیو لیکوالانو، ادیبانو او شاعرانو نومونه په دې ډول دي.

> په دې ورځپاڼو او مجلو کې نن پرون، افغان، پښتون، ژوند (ډیلي) پښتو، اسلم، قند، ننګیالی، لار، دوران، ژوند، پېښور، ګلستان، کوټه، اولس، ظفرالاسلام، کاروان، هېواد، اباسین (کراچۍ)، جمهور اسلام، خیبر، کرم، چنار، سینا، خرمن، هدایت، مېرمن، بانګ حرم، شهباز، الفلاح، انجام، جدت، د پښتو اکاډمۍ میاشتنۍ مجله، خوشحال ریویو او د پېښور وحدت ورځپاڼې د پښتو ژبې او ادب لپاره ډېر د قدر وړ چوپړ تر سره کړی دی.

سید عبدالله شاه، خادم محمد اکبر، مولانا عبدالقادر، عبدالاکبرخان اکبر، میا احمد شاه بیرسټر، عبدالخالق خلیق، خانمیر هلالي، فضل محمود مخفي، میا سید رسول رسا، فضل حق شیدا، سمندر خان سمندر، صنوبرحسین مومند، حمزه خان شینواری، بیرسټر سید نصرالله خان مشواڼي، ایچ ایس انوارالحق، ماسټر عبدالکریم، دوست محمد خان کامل، قاضي عبدالحیلم اثر، عبدالغني خان، ارباب سکندر خان خلیل، محمد اجمل خټک، ولي محمد توپان، شیر محمد مینوش، محمد اشرف مفتون، میجر یونس خلیل، میجر ایس ای رحمان، ایاز داؤد زی، قلندر مومند، ایوب صابر، همیش خلیل، طاهر بخاري، پریشان خټک، ډاکټر صادق الله خان، ډاکټر خیال بخاري، سید تقویم الحق کاکاخیل، سید تکریم الحق کاکاخیل، طاهر کلاچوي، قاضي هدایت الله، مشتاق، محمد اعظم اعظم، نسیم راهي، پردل خټک، ډاکټر حسن خان سوز، شباب، شهاب، برق، پیرګوهر، مجذوب، مطیع الله قریشي، ډاکټر سید چراغ حسین شاه، ډاکټر مطیع الله ناشاد، ډاکټر اقبال نسیم، ډاکټر راج ولي شاه خټک، فوزیه انجم، زیتون بانو، اغلې سلمی شاهین، سیده بشر رحمن، سیده قانته بیګم، اغلې الفت بیګم درد، عبدالکریم بریالی، سیال کاکړ، سلطان محمد صابر، صاحب شاه صابر، رحمت شاه سایل، سلطان محمد فاني او اغلې بي بي مریم.

په دې موده کې د پښتو ژبې په نظم او نثر کې ډېر کتابونه چاپ او خپاره شول او تر کتابونو پرته د ورځپاڼو او مجلو خپرونې هم پیل شوې، په دې ورځپاڼو او مجلو کې نن پرون، افغان، پښتون، ژوند (ډیلي) پښتو، اسلم، قند، ننګیالی، لار، دوران، ژوند، پېښور، ګلستان، کوټه، اولس، ظفرالاسلام، کاروان، هېواد، اباسین (کراچۍ)، جمهور اسلام، خیبر، کرم، چنار، سینا، خرمن، هدایت، مېرمن، بانګ حرم، شهباز، الفلاح، انجام، جدت او د پېښور پښتو اکاډمۍ میاشتنۍ مجله، خوشحال ریویو او د پېښور وحدت ورځپاڼې د پښتو ژبې او ادب لپاره ډېر د قدر وړ چوپړ تر سره کړی دی.

له ثور انقلاب څخه ډېر وړاندې په افغانستان کې پښتو ملي او رسمي ژبه اعلان او په دولتي چوکات کې ورته ځای ورکړل شو، د دې نتیجه دا شوه، هغه هیوادونو چې د هوا په څپو کې یې راډیویي خپرونې د نورو بهرنیو مملکتونو لپاره خپرولې، دوی هم د هوا په څپو کې په پښتو ژبه خپل نشرات پیل کړل، اوسمهال په افغانستان کې د پښتو ټولنې په نوم یوه ټولنه چې د دولت له لورې تمویلېږي، د پښتو ژبې د پرمختګ لپاره خپلې چارې پرمخ وړي، تر دې پرته اوس د جلال آباد په ښار کې د طبي پوهنځي زده کړه یالان په خپلې مورنۍ پښتو ژبې خپلې زده کړې کوي، دلته په پښتونخوا او د نړۍ په نورو هیوادونو کې اوس افغان کډوال د خپلې خپلواکۍ د بېرته تر لاسه کولو لپاره خپلې مجلې او اخبارونه خپروي، چې په دې کې د سپېدې مجله، افغان مجاهد، وحدت اسلامي، افغان ملت او نور شامل دي. (۲) په دې اخبارونو کې د مجاهد ولس په نوم یو اخبار د سویډن له سټاک هوم څخه هم خپرېږي. (۳) او یوه درې میاشتنۍ مجله له جرمني څخه هم نشرات کوي، د هند له تقسیم وروسته پښتو ژبې دومره پرمختګ کړی و، چې کولای یې شول د سیمې د نورو پرمخ تللو ژبو په څېر له دوی سره یو ځای اوږه په اوږه د پرمختګ پړاوونه ووهي او ډېره اړتیا هم لیدل کېده چې په پښتو ژبه کې هم د څېړنو او د لوړ تعلیم لپاره لارې پرانیستل شي، دې اړتیا ته په کتو په (۱۹۵۴م) کال کې د پېښور پوهنتون تر سیوري لاندې د پښتو اکاډمۍ په نامه یوه ټولنه رامنځته شوه. (۴)

ورو ورو د پښتو ژبې مضمون د ښوونځیو او د لوړو زده کړو په تدریسي نصاب کې د یوه اختیاري مضمون بڼه خپله کړه، په دې موده کې د پېښور پښتو اکاډمۍ غړو د پښتو ژبې د ویپانګې د یوه بشپړ کتاب د چمتوکولو لپاره متې رابډ وهلې او د دې کتاب په لیکلو یې لاس پورې کړ، په پښتو کې د ټایپ په ذریعه د لیکلو او خپریدو چارې هم دود شوې او په پای کې خو داسې وخت هم راغی، چې د لوړو زده کړو لپاره د پېښور په پښتو اکاډمۍ کې د ماسټرۍ او دوکتورا لپاره ځانګې پرانیستل شوې او د دې اکاډمۍ له لورې په پښتو ژبې او ادب کې ایم اې، ایم فل او د پي ایچ ډي یا دوکتورا تر کچې پورې د لوړ تعلیم د سندونو په ورکړه هم پیل وکړ، په دې ډول پښتو ژبه په یوه نوي دور کې داخله شوه، دې ټولنې په ډېرې چټکۍ هلې ځلې وکړې، پښتو ژبې ته یې د نورو ژبوغوره کتابونه وژباړل او هم یې د پښتو ژبې او ادب نورو کورنیو او بهرنیو ژبو ته ولیږداوه، لنډه داچې دې ټولنې تر اوسه وخت په وخت د ځو معیاري کتابونو ژباړې خپرې کړې دي، چې د ځینو نومونه یې په دې ډول دي.

> د هند له تقسیم وروسته پښتو ژبې دومره پرمختګ کړی و، چې کولای یې شول د سیمې د نورو پرمخ تللو ژبو په څېر له دوی سره یو ځای اوږه په اوږه د پرمختګ پړاوونه ووهي او ډېره اړتیا هم لیدل کېده چې په پښتو ژبه کې هم د څېړنو او د لوړ تعلیم لپاره لارې پرانیستل شي، دې اړتیا ته پــــه کتو په (۱۹۵۴م) کې د پېښور پوهنتون تر سیوري لاندې د پښتو اکاډمۍ په نامه یوه اداره رامنځته شوه.

منتخبات خوشحال خان خټک، ژباړن ډاکټر انوارالحق، عبدالرحمن بابا، منظومه ژباړه امیر حمزه خان شینواری پوئمز آف دي خوشحال خان خټک، انګلیسي ژباړه سر اولف کیرو او سرایولن هاول، دي پټهان د سراولف کیرو ژباړن سید محبوب علي، د ارسطو مشهور کتاب poetics پښتو ژباړه کتاب الشعر مولوي محمد اسرایل د علامه شبلي نعماني او د سید سلیمان ندوي د سیرت النبي پښتو ژباړه مولوي محمد اسرایل، د ډاکټر سید مظفر الدین ندوي کتاب Islamic thought and its sow ices پښتو ژباړه د اسلامي فکر مأخذ قاضي هدایت الله، spirit of Islam لیکوال جسټس سید امیر علي پښتو ژباړه قاضي هدایت الله او ډاکټر اقبال نسیم خټک بنګالي سندرې د قاضي نذر اسلام منتخبې منظومې پښتو ژباړه پروفیسر محمد نواز طائر، مقدمه شعر و شاعري د الطاف حسین حالي پښتو ژباړه پروفیسر محمد نواز طائر، روهي متلونه لومړی ټوک پشتو ضرب الامثال اردو ژباړه پروفیسر محمد نواز طائر، روهي متلونه دویم ټوک پشتو ضرب الامثال اردو ژباړه پروفیسر محمد نواز طائر، تواریخ حافظ رحمت خاني پیر معظم شاه اردو ژباړه او حواشي خان روشن خان، د خوشحال خان دستار نامه اردو ژباړه خاطر غزنوي، د ډاکټر اکبر ایس احمد کتاب میلینم اینډ کرزما پښتو ژباړه سید محمد تقویم الحق کاکاخیل، د صوفي غلام مصطفی تبسم کتاب دمسلمانانو د جغرافیه علم او د سیاحت شوق پښتو ژباړه مولوي محمد اسحاق، بانګ درا د اقبال پښتو ژباړه سیدراحت زاخیلي، بال جبریل اقبال پښتو ژباړه قاضي عبدالحیلم اثر، ضرب کلیم اقبال پښتو ژباړه سید محمد تقویم الحق کاکاخیل، پیام مشرق اقبال پښتو ژباړه شیر محمد مینوش، ارمغان حجاز اقبال پښتو ژباړه امیر حمزه شینواري، جاوید نامه اقبال پښتو ژباړه امیر حمزه شینواري، مثنوي پس چه باید کرد ای مسافر اقبال پښتو ژباړه سید محمد تقویم الحق کاکاخیل، نوی تشکیل six lectures on the religious thought in islam اقبال پښتو ژباړه پروفیسر سید الابرار، د خوشحال خان خټک بازنامه اردو ژباړه سید رضا همداني، روهي ادب د (پښتو ادبیاتو تاریخ) لومړی ټوک پروفیسر محمد نواز طائر اردو ژباړه سید صفدر علي شاه، علامه اقبال احمد ندیم قاسمي پښتو ژباړه سیف الرحمن سید، زموږ قاید محمد علي جناح د منظور عباسي پښتو ژباړه محمد نواز طائر، پیغام رسول ذولفقار تابش پښتو ژباړه محمد نواز طائر زه پاکستانی یم لیکواله اغلې ثاقبه رحیم الدین پښتو ژباړه پروفسیر محمد نواز طائر، بنیادي معاشیات پښتو ژباړه میا غفران الله کاکاخیل، نامیاتي کیمیا پښتو ژباړه پروفیسر عبدالرؤف نوشهروي، غیرنامیاتي کیمیا پښتو ژباړه پروفیسر عبدالرؤف نوشهروي، حجریات (د جغرافیه علم) پښتو ژباړه پروفیسر ډاکټر محمد ساجد موسمیات او ربحریات د (جغرافیه علم) پښتو ژباړه پروفیسر ډاکټر محمد ساجد او محمد الحسن، د بوټو علم (باټني) لومړی برخه پښتو ژباړه میا محمد یوسف کاکاخیل، د بوټو علم (باټنی) دویمه برخه پښتو ژباړه میا محمد یوسف کاکاخیل، د پروفیسر صاحبزاده محمدي مقاله economic implications of an Islamic state پښتو ژباړه اسلامي ریاست اقتصادي تداخل پروفیسر محمد نواز طائر.

له دې پرته د کاظم خان شیدا د دیوان اردو ژباړه ډاکټر سید انوارالحق، د رحمان بابا منتخب کلام انګلیسي ژباړه ډاکټر میکنزي او نور ډېر کتابونه چې په تېرو دوو لسیزو کې په اردو او انګلیسي ژبو ژباړل شوي دي.

### لمنلیک او څرګندونې

(۱). په افغانستان کې د پښتو ژبې د رسمي کیدو پیل د امیر حبیب الله خان په واکمنۍ کې پیل شو. د امان الله خان د سلطنت په دوران کې یې ښه پرمختګ وکړ او تر دې وروسته دنادرخان او د ظاهرشاه د واکمنۍ په دوران کې نور هم وغوړید. په افغانستان کې د پښتو ژبې چوپړ ته د هر چا د زړه اواز او اغیزمن شخصیت محمد ګل خان مومند په ځانګړي ډول ټول عمر مبارزه وکړه.

(۲). په کابل کې د دولت لخوا په خپرېدونکو اخبارونو او مجلو کې د کابل مجله، د ورمې مجله، او د زېري اخبار د یادولو وړ دي.

(۳). یاد اخبار د سویډن له سټاک هوم څخه نه، بلکې د ناروې له پلازمېنې اوسلو څخه خپرېده. (پښتو ژباړن)

(۴). د پښتو اکاډمۍ اعراض او موخې.

### استفاده شوي کتابونه

(۱).پښتانه د تاریخ په رڼا کې د بهادر شاه ظفر کاکاخیل
(۲).د پښتنو تاریخ د قاضي عطاءالله خان
(۳).د پښتو ادبیاتو تاریخ د عبدالحی حبیبي
(۴).تاریخ افغانستان د احمد علي کهزاد
(۵).کابل مجله (۱۹۴۳م) (٦). پښتو مجله (۱۹۵۸م)
(۷). تاریخ ادبیات مسلمانان پاک و هند (پشتو ادب برخه)
(۸). د مولانا عبدالقادر مسودات او مقالات (ناچاپ)
(۹). پښتنې سندرې (۱۰). د پښتو ادب تاریخ د رښتین
(۱۱). پښتو خوارلس سوه کاله پخوا د حبیبي
(۱۲). بغلان د حبیبي پښتو مجله پښتو اکاډمي
(۱۳). بړه اومه یا موه د ډاکټر نوازش علي قزلباش
(۱۴). تیر هیر شاعران (۱۵). پښتو ادب د عبدالحلیم اثر
(۱٦). خیرالبیان د بایزید انصاري (۱۷). د پښتو ادب لنډ تاریخ
(۱۸). د پښتو ادب تاریخ تدریسي خپرونې (حبیبي)
(۱۹). اغراض او مقاصد د پښتو اکاډمي، پټه خزانه
(۲۰). روحاني رابطه او ترون د عبدالحلیم اثر افغاني
(۲۱).پټهان اردو (۲۲). لنډکی پښتو د محمدګل خان مومند
(۲۳). خلاصة الانساب مؤلف حافظ رحمت خان روهیله
(۲۴). مآثرالامراء (۲۵). تزک جهانګیري (۲٦). ترکتازان هند
(۲۷). ګلستان رحمت مؤلف نواب مستجاب روهیله
(۲۸). تاریخ فرشته (۲۹). مآثر عالمګیري (۳۰). اکبرنامه
(۳۱). د افغانستان تاریخ د سید جمال الدین افغاني
(۳۲). تواریخ حافظ رحمت خاني مؤلف پیر معظم شاه
(۳۳). جامع اللغات (۳۴). اردو انسائکلوپیډیا
(۳۵). نسیم اللغات (۳٦). فیروز اللغات
(۳۷). فرهنګ انند راج (۳۸). فرهنګ کاروان
(۳۹). تاریخ آزاد پټهان مؤلف الله بخش یوسفي
(۴۰). تاریخ یوسفزیي پټهان (۴۱). جاوید نامه (اقبال)
(۴۲). لغت نامه دهخدا (۴۳). هار و بهار د ډار میسټېر
(۴۴). غزونې د امیر حمزه شینواري (۴۵). عجائب اللغات
(۴٦). سپوږمۍ ګړنګ وهه راخېږه د انولډسن
(۴۷). ټپه او ژوند (۴۸). کتاب الشعر (۴۹). مدوجزر اسلام
(۵۰). تاریخ ادبیات ایران د ډاکټر رشا زاده شفق
(۵۱). تذکره الابرار والاشرار د اخوند درویزه
(۵۲). حالنامه د محمد علي مخلص (۵۳). ریاض المحبت
(۵۴). Pashto Poetry Though Twelve Centuries by Prof. S. M Idrees
(۵۵). Catalogue of Pashto Manuscripts in the Libraries British Isles by D. N Makenzie and J. F. Blum Hardt.
(۵٦). Modern Trends in Pashto Poetry and Prose by Moraine.
(۵۷). Afghanistan Vol: 11 by Wilber
(۵۸). Pushto Grammar by Major G. H. Raverty.
(۵۹). The Development of Pushto as the National and Literary Language of Afghanistan Central Asian review Vol: xiii no.3 (1966)

## د "طلايي پاڼې" نثرونو...

په دې وخت کې زمونږ ښوونکی صاحب په چوکۍ ناست و او راته یې وویل هلکانو! نن زه تاسې ته وروستی لوست درکوم. افسوس تاسو به فرانسویان یاست مګر خپله مورنۍ ژبه به درڅخه پاته وي ؟ کوچنو دا خبره په ښې غوږ واورئ! چې زمونږ فرانسوي ژبه تر ټولو ښه ژبه ده. داسې خوږه، داسې پسته، داسې ښکلې ژبه په دنیا بله نشته. تاسې نن مریان یاست مګر دا ژبه هېره نه کړئ او د دې له ساتنې څخه لاس وانخلئ.

### د خپلواکۍ مینه

دا کیسه لکه چې د خپل واضحه او ښکاره نوم نه ظاهروي چې د خپلواکۍ د مینې په تهیم لیکل شوې ده. لکه د هرې افسانې شاته یوه واقعه وي او د دغې واقعې شاته یا حقیقت یا روایت او یا بیا امکان موجود وي. نو د دې افسانې شاته هم یوه واقعه او په دغې واقعې کې یو حقیقت او دغه حقیقت کې یو روان فکشن دی چې د پرفکشن په کالو مزیین شوی دی.

دې کیسه کې پېغام خپل ابلاغي بڼه کې عام فهم او ډېر ساده دی ولې په عملي توګه د هر کس یا د هر نر د وس کار نه دی، دې ته یو رښتونی مجاهد او یو قوي د خپل وطن په خپلواکۍ مئین پکار وي چې دې افسانه کې نبغ په نبغه پکار او د افسانوي فن دپاره یو شاهکار وګرزېدو لکه:

زما ښه په یاد دي چې په کوچینوالي به زړو اناګانو د غزاوو کیسې راته کولې او په غیر شعوري ډول به یې د پښتنوالي او د وطن دوستۍ درسونه راکول دا رویه ډېره ښه وه، کوچنیو ته د وطن د مینې او د استقلال د محبت یو مکتب و.

د غزا اعلان وشو
چیرې ؟
د استقلال جنګ ته
د خپلواکۍ ګټلو میدان ته
د ده په زړه تر هر څه د خپلواکۍ مینه قوي وه.

### طبیب

دا کیسه په بنیادي توګه د روایت په بنسټ په خپله ټولنه او په ټولنه کې په خپل طبیب یو قوي طنز شوی دی، اکثر په هر پروفیشن کې یوه پروفیشن جیلسي یا پېشورانه تنګزرتیا په متعلقه وګړو کې وي او دا هم ضروري نه ده چې هر پروفیشنل کس دې کمپیټنټ یا وړ دې هم وي ولې خپل ځان د ټولو نه وړ او پیاوړی بولي او که مریض یې چرته بل یو طبیب ته لاړ نو بیا د ده تندی ګونځو نیولی وي. دې کیسه کې هم په یوه داسې طبیب طنز شوی چې مراد ترینه ټوله ټولنه ده.

کیسه مختــصره ده، واقعه یا قیصه خو لري ولې افسانویت یې زړه راښکون نه لري، البته تر څه حده متاثرکن ضرور دی. لکه:

مونږ یو خانداني طبیب درلود. او دا طبیب د هر مرض متخصص و. مونږ هم ناچاره وو چې په هره واقعه کې د ته ورسو یا یې راوغواړو ولې چې له پلرونو مو اورېدلي وو چې دا طبیب حاذق دی.

زمونږ طبیب ډېر بد خویه هم و. زه حیران یم چې دا اماله او مرغلرې څنګه د هر مرض دوا دي؟

مونږ که څه هم هلکان وو پاخه عقلونه مو نه درلودل، خو دومره پوهېدو چې دا طبیب صاحب زمونږ لپاره بلایې جان دی او هېڅکله د ده دوا صحت نه راولي. بلکې ورو ورو د دې کورنۍ افراد ملک الموت ته سپارې.

### مېړنی هېوادپال

دا کیسه هم په تاریخي حواله لیکل شوې او د انډس ارمي حمله چې کومه په کندهار شوې وه او یو مېړنی ځوان یو پرنګی عسکر وژلی و او پرنګي مېجر ته یې ویلي و چې که لاس مې تړلي نه وای، ته مې هم وژلې او چې کله یې وژلو نو خپلې محبوبه ورته لکه د میوند د ملالې زړه سواندي ټپه کوي لکه:

د قندهار په زړه وړونکې فضا کې د ناورین او عمومي علایم لیدل کېده او دا ځکه چې ځو میاشتې لا نه وې تېرې شوې چې د انګلیسي متجاوز لښکر د انډس ارمي په نامه د سند او شال له لارې راتېر سوي او احمد شاهي ښار یې نیولی و.

یو قندهاري ځوان چې سهار له کوره وتی و نو خپله تېره سیلاوه یې تر ملا کړه او ځان یې یوې عظیمې قربانۍ ته چمتو کاوه.

دوکتور والف مسیحي روحاني چې په همدې ورځو کې د استانبول له لارې بخارا ته راغلی.

مېجر ولې دې زمونږ هغه عسکر مړ کړو؟

ځوان که مو زما لاس نه وای تړلي نو ته مې هم وژلې.

مېجر ولې؟

تاسې کافران څه کوئ چې زمونږ کور ته راغلي یاست؟

یوه پېغله د دغه مېړني وطنخوا انجل وه د خلکو په ډله کې مقتل ته نږدې ولاړه وه چې یې نازنین محبوب په مځکه نسکور شو او په خپلو وینو کې ولمبېدو نو دې له خپله ځانه سره دا لنډۍ زمزمه کړه:

جانان شهید تر دنیا تېر شو
د ده په نوم به تر قیامته ناسته یمه

### هېوادپال شپون

ګو چې دې ته لنډه کیسه لیکل شوې ده نو لنډه کیسه یا لنډه تاریخي واقعه خو ضرور ده ولې لنډه کیسه ورته په ډېر احترام او انصرام پکار ده چې و نه وایو؛ البته یو تاریخ ضرور دی د بدخشان شپون (زبیر راعي) مېړانه ضرور ده. د بابر او د هغو د قواوو څخه او جان مرزا سره چې بیا د خپلو بدخشاني خلکو له سازشه ووژلی شو ولې بیا هم بابر شل کاله په افغانستان کې په وړاندې د تللو لپاره واخیستل.

د دې لنډې کیسې وړې وړې تخلیقي او تاریخي جملې پکار ده چې دلته د لوستونکو سره شریکي شي. لکه:

بابر چې د تیمور او چنګېز له نسله و په افغانستان یې حمله وکړه. په دې وخت کې وړمبۍ ملي جنبش د بدخشان د مېرنو خلکو له خوا راپورته شو. د دغه جنبش مشر یو بدخشانی شپون و چې هغه یې هم په دې سبب د (زبېر راعي) په نامه یاداوه.

بابر په خپلو تربرونو کې یو تربور درلود چې جان مرزا نومېده او مور یې د بدخشان له اشرافو څخه وه.

د جان مرزا د مور خپلوان د هغه د لښکرو مرستي سوه او د بدخشان د ملي لښکرو او د زبېر د مقاومت په صفونو کې فتور ګډ شو او زبېر هم د سیمې په یوه دفاعي جنګ کې ووژل شو.اوس له هغه وخته ځو قرنه تېر شوي خو د دغه شپون مېړانه او هېواد پالنه د تاریخ او خلګو څخه نه هېرېږي. پای

# زېرى

د تأسيس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د ۱۴۰۵ ل.کال، د غويي مياشتي ۳-۴مه گڼه | پرله پسې ۴۶۷-۴۶۸ مه گڼه

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

مسؤول مدير: څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين

مهتمم: پښتون پښتون

کمپوز او ډيزاين: دوکتور خاورين

کتنپلاوی: اکاډميسين څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين
څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل

برېښناليک: zerai1316@asa.gov.af / zerai1316@gmail.com

د اړيکې شمېرې: (+93) (0) (780831960)
(+93) (0) (202201279)

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز
څېړنيز ارگان

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

د يوې گڼې بيه: پنځه افغانۍ




# عروضي نظام او پښتو ژبه

پروفيسور دوکتور حنيف خليل

عروض د عربی کلمه ده چې په گڼ شمير معنو کې يې يوه دا معنا ده چې د خېمې هغه منځنۍ ستنه يا اډانه چې خېمه پرې ولاړه وي او توازن يې په ځای وي. په اصطلاح کې عروض د شعر د وزن معلومولو پيمانې يا علم ته وايي. د دغه علم دريافت کوونکی د دويمې هجري پيړۍ دانشور او د رياضۍ او موسيقۍ ماهر ابو عبدالرحمان خليل بن احمد و. عربي شاعري خو د خليل بن احمد نه مخکښې هم موجوده وه خو د وزن او تول د پيمانې موندونکی يې دغه خليل بن احمد و چې د عربي شعر د وزن لپاره يې خوارلس بحرونه دريافت کړي وو. عربو نه پس پکې ايرانيانو د خپلې ژبې د مزاج تر مخه د څلورو نورو بحرونو اضافه وکړه. ټول نولس بحرونه شو او ورته نولس نومونه وټاکل شول چې پيژندگلو يې په "فاعلاتن فاعلاتن فاعلات" کيږي.

هغه مولانا بلخي ته چې شعر منسوب دی:

> من نـــه دانم فاعلاتن فاعلات
> شعر می گويم به از قند و نبات

له عربی او فارسی نه علاوه يوه زړه ژبه سنسکرت هم ده چې شاعري پکې کېدله. هلته هم د شعر د مصرعو تللو پيمانه وه چې ورته به يې "چهند" ويل. چهند يعنې وزن، او د وزن معلومولو علم ته به سنسکرت کښې "چهند شاسترا" ويل کېدل. د سنسکرت عربی او فارسی سره يوه زړه ژبه پښتو هم ده چې پښتو شاعري په دغو نولسو بحرونو کې برابره نه راتله. هر څو که د پښتو کلاسيکي شاعرانو هڅه کړې ده خو بيا هم پښتو په دغه عروضي نظام کې سمه نه راتله. خوشحال بابا ويلي وو:

> پښتو ژبه مشکله، د دې بحر مونده نه شي
> هم ما لره يو څو بحره په ډير منبود راغلي

دغه يو څو بحره هغه وو چې د پښتو ځنې مصرعې به په اتفاقي ډول د فارسي عربي عروضو په کوم بحر کې برابرې شوې. بيا کاظم خان شيدا چې د پښتو شعر د عربي فارسي عروضو سره وکتو نو هغه خو ټوله پښتو ژبه بې وزنه وبلله.

> پښتو ژبه تمامـــــــــــه
> ده بې نظمه بې نظامـــــه
> له اوزانه مختلفـــــــــه
> له ميزانه منحرفـــــــه
> حواله چې په تقطيع شـــــي
> گاهې طعن گاهې تشنيع شي

بيا ميا شرف د پښتو عروض په نوم يو کتاب وليکلو چې مسله ورسره حل نه شوه. سمندر خان سمندر، ولي محمد طوفان او نورو هم هڅې وکړې خو عربي فارسي عروض پښتو سره سم نه شو. تر دې چې درويش دراني او اوس امير زيب عامر بيل بيل کتابونه وليکل چې عربی فارسی عروضو نه راووتل او د چپې يا سيلاب په بنياد يې د پښتو شعر د وزن پيمانې ولټولې. دغسې د پښتو شعر د وزن پيمانه په چپه يا سيلاب ټاکل درست ښکاره شو او دغه چپه يا سيلاب د ټولو مشرقي ژبو نه بدله پيمانه وه چې مغربي ژبې انگريزۍ سره يې سمون خوړلو.

د مشرقي ژبې پښتو د مغربي ژبې انگريزۍ سره د وزن په اړه د سمون خوړلو زما په خيال غټې علتونه دوه دي.

يو دا چې پښتو او انگريزۍ دواړو ژبو کې د ساکن حرف نه د لفظ ابتدا کېدی شي لکه پښتو کښې برند، درند، تلل، خپل وغيره. په برند کې ب، درند کې د، تلل کې ت او خپل کې خ هيڅ حرکت نه لري. په انگريزۍ کې Quick, Brick, School, State وغيره، چې دا صلاحيت په عربی، فارسی، اردو او بله مشرقي ژبه کې هم نشته.

دويم دا چې په پښتو او انگريزي ژبو کې د لفظونو پـــه ويلو کې د خج يا فشار يا زور راوړلو مقام د نورو مشرقي ژبو نه بدل دی.

ځنې علتونه يې نور هم کېدی شي خو غټ علتونه يې زما تر فهمه دغه دوه دي. نو په داسې حال کې خو بيا د پښتو او انگريزۍ د مـــــصرعو اداېگي او رواني د فارسی، عربی اردو يا نورو مشرقي ژبو په بحرونو کې په منظم او مربوط ډول هيڅ امکان نه لري. بس په چپو به روان يو او همدغه چپې يا سيلابونه مـــــــــــو د عروضي نظام تشکيل کوي. پای

# د "ښکاري" ډرامې ولسي او ژبنی اړخ

څېړندوی لطف الله صابر

ډرامه (Drama) يوناني کلمه ده چې له (Draw) څخه د عمل په معنا را اخيستل شوې ده. په ادبي اصطلاح کې د ژوند تقليد او د حقيقت انځورگري ته ويل کيږي. (۱: ۱۸۰مخ) ساموېل کالريج ډرامه د حقيقت نقل او د فطرت تقليد بولي. (۲: ۱۵۰مخ) عبدالنافع همت بيا ليکي: "ډرامه د انساني ژوند هغه تقليد دی چې عمل، کشمکش، پېښه، انځور، هنري تومنه او پيغام ولري او دا تقليد د کرکټرونو د عمل خبرو، حرکتونو او اشارو په وسيله د واقعي ژوند يوه برخه د داستان په بڼه تمثيل کړي." (۳: ۲۰مخ) له پورتنيو تعريفونو دې پايلې ته رسيږو: په هنري او ځيرکانه توگه د ډرامې د اصولو په چوکاټ کې د هرې ټولنيزې او طبيعي پېښې د پيغام انعکاس ته ډرامه وايي.

په پښتو ژبه کې د ډرامې شاليد له سټېج ډرامې پيل شوی دی. په هغې زمانه کې د انگرېزي ښکېلاک له خوا د سټېج ډرامې مخه تر ډېره بريده نيول کېدله او هم پښتو سټېج ډرامې سوداگريز ملاتړ نه درلود؛ نو ځای يې راډيويي ډرامې ونيو چې راډيوگانو هم په هغه مهال کې د حکومت تر چتر لاندې خپروني لرلې نو د سټېج ډرامې په نسبت يې يو څه سوداگريز ملاتړ هم درلود نو د ودې پړاو ته داخله شوه.

په افغانستان کې لومړنۍ سټېج ډرامه د اعليحضـــرت شاه غازي امان الله خان په زمانه کې د (مادر وطن) ترسرليک لاندې وړاندې شوې ده، په هغې زمانه کې تر ډېره د سياسي ډرامو د ننداړې مخه نيول کېدله. علت يې دا و چې تر ډېره پکې د حکومت چارې تر نقد لاندې نيول کېدلې. (۴: ۵۲مخ)

"ښکاري" ډرامه چې ليکوال يې نثار مظلوم دی، په ډېره روانه ژبه ليکل شوې ده، پيغام يې پښتني رنگ او بوی لري، تر ډېره پکې د پښتون او پښتني مېرمنې د ننگ، غيرت، مېړانې، تورې، پت او عزت وړانگې منعکس شوې دي، دا ډرامه په اصل کې د پښتو ژبې يوه فولکلوريکه کيسه ده چې ولسي مسايل پکې مطرح شوي دي.

د ډرامې ژبه روانه، سليسه، عام فهمه او د هرې طبقې لپاره په زړه پورې پيغام لرونکې ډرامه ده چې لوستونکی او اورېدونکی د ژوند ډېرو خبرو ته متوجه کوي. (۵: ۶۲ - ۶۸مخ)

## د "ښکاري" ډرامې ولسي اړخ

"ښکاري" ډرامه په ټوله کې د پښتني ټولنې يوه ولسي پېښه په ډېر ښه انداز سره د څلورو اصلي او دوه فرعي کرکټرونو په چوکاټ کې وړاندې شوې ده.

په دې ډرامه کې زرغون خان د ډرامې د اصلي او مرکزي کرکټر په توگه د ښکاري او د پلوشې نومې پښتنې پېغلې د مئين رول لوبوي. زينب د زرغون د خور په توگه په يوه صحنه کې د يوې ثانيې لپاره رول لري- غني خان بيا د زرغون د ښکار ملگری دی چې د ډرامې په ډېره برخه کې فعال دی. بابا د زرغوني پلار دی او کمال چې د پلوشې خاوند دی هم د دې ډرامې له مهمو لوبغاړو څخه شمېرل کيږي.

که په خلاصه توگه د دې ډرامې ولســـي اړخ ته رجوع وکړو، نو ويلی شو چې په دې ډرامه کې ځينو ناوړه کړو وړو، چلندونو او دودونو ته اشاره شوې ده چې زموږ په پښتني ټولنه کې حاکميت لري؛ لکه په ډېره عادي مسئله چې د ښکار په سر شخړه کول او تر بدۍ پورې يې غځول دا يو ناسم او ناوړه چلند دی، بله دا چې په قرضدار پسې کور ته ورتلل او په زوره کور ته دننه کېدل چې نارينه هم کور کې نشته- دا يو بل غير پښتني کړنه ده چې په پښتني ټولنه کې يې خلک بده گڼي او داسې کار هېڅکله هم نه کوي.

له بلې خوا ځيني ښېگڼې هم لري چې په ځينو برخو کې سالم ننگ او غيرت کوي او همدا ننگ او غيرت کول هم د پښتنو يو ارزښتمن اړخ دی.

## د "ښکاري" ډرامې ژبنی اړخ

د ژبې له مخې د دې ډرامې يوه ښېگڼه دا ده چې په روانه او د عامو وگړو په ژبه ليکل شوې ده، يعنې د هرې طبقې وگړی يې په اسانۍ سره لوستلی او مفهوم ترې اخيستلی شي. سربېره پر دې چې دا ډرامه له ولسي او ژبني اړخه ارزښتمنه ده، له هنري پلوه هم په زړه پورې او جالبه ده، چې د لوستلو او اورېدلو پر مهال ځانگړی کشش لري.

د نشري يا راډيويي ډرامې ځانگړنې داسې وي چې مکالمې پکې ځانگړی اهميت لري، د ډرامې ټول حرکات ويونکی د غږ او اواز په وسيله د اورېدونکي ذهن او فکر ته رسوي او د هغه په تخيل کې يې انځوروي. راډيويي ډرامه د زمان او مکان له تطبيق څخه ازاده وي، ليکوال خپله ډرامه په څو دورونو کې وړاندې کولی شي او د دې تر څنگ په راډيو ډرامه کې هغه پېښې او منظرونه منعکس کېدلی شي چې په سټېج او تياتر ډرامه کې نه شي وړاندې کېدلی، پر همدې بنسټ راډيو ډرامې د ډرامې صنف ته نوښت او نوې جهتونه وربخښلي دي.

په دې ډرامه کې بنيادي عناصر په پام کې نيول شوي دي او دوه ډوله دي چې يو يې داخلي يا باطني عناصر دي او بل يې خارجي يا بهرني عناصر او سربېره پر دې يې د ډرامې تجسس يا تلوسه هم په پام کې نيولې ده چې اورېدونکي ته په زړه پورې او جالبيت منعکسوي. (۶: ۴۶ - ۴۷مخونه)

ډرامه د فن او ادب بــــــــــــرخه ده. د دې موضوعات او مقصدونه هم هغه دي کوم چې د نورو ادبي اصنافو دي يعنې د احساس او فکر خوشحالي، د جذباتو تهذيب، د انساني فکر او شعور تربيت، د انساني ژوند په هکله د تلوسې تسکين او په علم او پوهه کې اضافه دا د ډرامې عمومي مقصد دی؛ خو د ډرامه ليکونکي هم يو فکر او مقصد وي، د کردارونو، زمان او مکان په ښودلو کې د هغه خپل مقصد او غرض وي چې د ډرامې مقصد ټاکي. ډرامه ليکوال هڅه کوي چې په ډرامه کې اخلاقي اصلاح، معاشرتي اصلاح يا د يوې خاصې او ځانگړې نظريې د خپرولو او منعکسولو لپاره ډرامه ليکي نو په دې ډرامه کې هم دا مسايل نغښتي او پام ورته شوی دی.

د ژبې له مخې په دې ډرامه کې ځينې خاصې کلمې او لغتونه هم شته چې له عامې محاورې سره نږدې دي او دا د ژبې د بډاينې لپاره ارزښت لري.

د "ښکاري" ډرامې ولسي اړخ کې ننگ، غيرت، مېړانه، توره، زيار او زحمت گالل همدا راز پښتني راکړه ورکړه او معاشرتي مسايل نغښتي دي چې ځينې يې مثبت او ځينې پکې منفي اړخ لري چې له هر اړخ څخه يې موږ په خپل ټولنيز ژوند کې سالمه گټه اخيستلی شو او اړينه ده چې د ډرامو يا په ټوله کې د کيسو او داستاني ادبياتو له دې برخې څخه په ټولنيز ژوند کې رغنده کار واخيستل شي او مثبتو اړخونو ته يې ډېره توجه وشي او له منفي اړخونو څخه يې ډډه وشي. د ژبني اړخ له مخې هم په دې ډرامه کې ډېرې ښېگڼې نغښتې دي، چې يوه يې د عام فهمۍ برخه ده. دا ډرامه په عام فهمه او روانه ژبه ليکل شوې ده او د هرې طبقې وگړی ترې په اسانۍ سره مطلب او مفهوم اخيستلی شي.


## مأخذونه

(۱). مشتاق، مجروح يوسفزی. (۱۹۹۸م). زرکاڼی. پېښور: تاج پرنټينگ پرس، پېښور.

(۲). رشيدي، جمشېد. (۱۳۹۱ل). ادب تيوري. کابل: مرکز نشر و پخش نامي.

(۳). همت، عبدالنافع. (۱۴۰۱ل). د ډرامې ليکلو لارې چارې. کندهار: ميوند کلتوري ټولنه.

(۴). جمهوري پلوشه.(مجله). (۱۳۵۵ل). راډيويي ډرامه. کابل: اطلاعاتو او کلتور وزارت.

(۵). مظلوم، نثار. (۱۳۵۵ل) ښکاري. کابل: اطلاعاتو او کلتور وزارت.

(۶). رشيد احمد. (۲۰۱۶م) پښتو ډرامه. پېښور: عامر پرنټ اينډ پبلشرز.


# د "نام حق" بشپړ متن

دوکتور مصطفیٰ کمال

د اوولسمې ميلادي پېړۍ په اسمان راځلېدلی د علم، دانش او ادب ستوری خوشحال خان خټک چې تر ننه په کُلهمه نړۍ کې د ځان سيال او مثال نه لري، د شعر و ادب، مذهب، فقهې، منطق، فلسفې، تصوف، طب، علمِ نباتات، علمِ حيوانات، تاريخ، سياست، لسانيات او په نورو ډېرو اړخونو د عبور لرلو سره سره يو مهم ژباړونکی هم و. تر ډېره د هغه په بنيادي کارونو کې د فقهې د مشهور کتاب "هدايه" د ترجمې زيات درز خور و، خو بيا دا انکشاف هم وشو، چې خوشحال بابا د مولانا شرفُ الدين ابو توامه د "نامِ حق" د منظومې ترجمې غوندې نوري ترجمې هم کړې دي.

هر څو که له بده مرغه د "نامِ حق" صرف يو څو پاڼې د پښتو بې لوثه خدمتگار همېش خليل ته په گوتو ورغلې وې، خو هغه کمال دا کړی، چې دغه پاڼې يې د نيمگړتياوو له کبله نظر انداز کړې نه وې او د خوشحال بابا د تبرّک په حېث يې د چاپ په لار په کال ۱۹۹۶م کې رامخ ته کړې وې. د دغو پاڼو چاپ د دې محرومۍ اظهار هم و، چې گڼې د "نامِ حق" نور متن په لاس نه راځي، لکه چې ضايع شوی دی. بيا تر دې دمه د اوږدې خاموشۍ سره، هېڅ يو پښتون څېړونکي يا اداري دا تکليف و نه کړ چې په باقي پاتې "نامِ حق" پسې لټون قدري وکړي. خو د جديد دور د پښتو متنپوهنې استاد څېړونکي ډاکټر عبدالله جان عابد ته دې ډېر خېر او شاباش وي چې د ستر خوشحال بابا دا اثر يې د کلونو لټون نه پس په ډېر شواخون د پنجاب د داتا گنج بخش د کتابتون نه را برامد کړ، متنيز او څېړنيز کار يې پرې تر سره کړ او د کوټې پښتو اکېډېمۍ له خوا يې په چاپي شکل او کتابي بڼه په بشپړ صورت دنيا ته وړاندې کړ.

عبد الله جان عابد د روان عصر په هغو پوهانو ليکوالانو کې دی چې خپل خدا داد علمي صلاحيتونه او ذوق يې په خپل ځای خو دا سپېڅلې جذبه او شوق يې ساری نه لري، چې د خپل مخ د ځلولو د لپاره، خامخا د کاغذونو مخونه نه توروي. چې څه هم وليکي او چاپ کړي، نو هر صاحبِ احساس او زيرک لوستونکي ته پته ولگي چې خپل علمي خلوص او کسبي زړه چاودون يې پښتنې ټولنې ته ډالۍ کړی دی. د خپلو نورو ادبي، تحقيقي او تنقيدي کارونو سره سره يې بعضې مهمې زړې نسخې هم رابرسېره کړې او ډېر معياري کار يې پرې کړی دی.

زما په اند، عابد صېب هم د هغه زنځير ژوندۍ او مهمه برخه ده، کوم چې د عبدالحی حبيبي، دوست محمد خان کامل، همېش خليل، حبيب الله رفيع او څو نورو غوندې ستر نومونه، د مضبوطو کړو په حېث بنړېدلي را روان وو. په اوسني وخت کې د متنپوهنې او څېړنې په کار، که په بره پښتونخوا کې ښاغلي هېواد مل ته ملکه حاصله ده، نو دلته دغه نام او مقام د ډاکټر عبد الله جان عابد په برخه دی، چې بغېر د څه مالي گټې او مادي فايدې يې دا گران مشقت او د پښتو او پښتنو دا ساهو خدمت په ځان د عبادت غوندې قرض او فرض گرځولی دی-

د خوشحال بابا دا منظوم اثر که يو خوا د خوشحالياتو پنگه درنه کړه، نو بل خوا يې ډاکټر عابد له دا زرينه موقع هم په لاس ورکړه چې قدرت دا ښاغلی کار هم د ده غوندې له پوهه او زيرک ليکوال څخه واخيست، چې دا احسان په پښتون اولس وکړي، ځکه چې جديد دور، نويو رسنيو، کتابونه په ورکېدو کړي او که ښاغلي عابد صېب د خپلو نورو ارزښتناکو څېړنو سره دا اثر نه واى را پيدا کړی او رامخ ته کړی، نو کېدی شي، را روان دورونه ترې هم محروم پاتې شوي وای. پای


ZERAY
Afghanistan Sciences Academy (ASA)

**Editor - In - Chief:**
Associate Professor
Muhammad Ishaq Khawreen (PhD)

**Assistant:**
Assistant Professor Pashtoon Pashtoon

*Compose & Layout Design:*
Dr. Khawreen

**Address:** Center for Languages & Literature,
Institute of Pashto Language & Literature (ASA)
Naway Khaar Kabul - Afghanistan
**Contacts:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:**zerai1316@asa.gov.af/zerai1316@gmail.com